# پرمختیا

اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

۸۷ مه ګڼه • پنجشنبه • د چنګاښ ٦ مه • ۱۳۹۸




۸

## د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر د کنړ سیند دواړو غاړو ته د استنادي دیوال د جوړولو چارې د څه باندې یو میلیارد افغانیو په ارزښت پیل کړې



٤

### په جوزجان ولایت کې د ښباک اوبو ۲۵ پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



۱۰

### په پکتیا کې د ٤۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۹ پرمختیایي پروژو چارې پیل شوې



# په کابل کې د دوه میلیونه افغانیو په ارزښت د کرنیزو ځمکو د خړوبولو کاریز د بیارغونې چارې روانې دي

۱۳۹۸/چنګابښ/۱

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له لوري د نږدې یو میلیون افغانیو په ارزښت د کابل ولایت د شکر درې په ولسوالۍ کې د کرنیزو ځمکو د اوبو کولو د کانال چارې اویا سلنه بشپړې شوې.

په دې پروژه کې ۱۵۲ متره کانال پاکول، ۳۰ متره کانال جوړول، د اوبو د ذخیره او د ۱۱ ځاګانو کېندل شامل دي، چې په کاري بهیر کې ۲۳۱٤ کاري ورځې رامنځته شوې او په بشپړېدو سره ۷۰۰ جریبه ځمکه خړوبوي، چې د سېمې ٤۹۰۰ کسان به ترې ګټه اخلي.



# په نورستان کې د ۱۷ میلیونه افغانیو په ارزښت پر ۲۷ کیلومتره سړک جغل واچول شو

۱۳۹۸/چنګاښ/۱

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو ملي پروګرام له لوري د نورستان ولایت په مرکز ارچینوي کلي واما ولسوالي څخه دې ولایت تر مرکزه پورې د ۱۷ کیلومتره سړک چارې بشپړې شوې.

د دې سړک په جوړیدو سره د کلي او ولایت د مرکز ترمنځ فاصله له دوو ساعتونو څخه څلوېښت دقیقو ته راکمه شوه، چې د خلکو ګڼې ترانسپورټي ستونزې ورسره کمې شوې.

# په بغلان کې د ۱،۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې پرمختیایي پروژې چارې روانې دي

۱۳۹۸/غبرګولي/۳۰

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د جدید بغلان په ولسوالۍ کې د کرنیزو ځمکو د اوبو کولو ۱۰۰ متره کانال او د ٤٦۰ متره محافظوي دیوال د جوړولو چارې د ۱،۸ میلیونه افغانیو په ارزښت روانې دي.

د دې پروژې په کاري بهیر کې ۱۲۱۸ کاري ورځې ایجاد شوې او ٤۷۰ جریبه ځمکه به خړوبوي.






# په جوزجان ولایت کې د څښاک اوبو ۲۵ پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

۰۲ چنگاښ ۱۳۹۸

د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت، په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو ملي پروګرام له لوري د جوزجان ولایت په مُرادیان، آقچه، مینګجیک، خانقا او خواجه دوکوه ولسوالیو او همدارنګه د جوزجان ولایت د مرکز شبرغان ښار په شاوخوا سیمو کې د څښلو د اوبو ۲۵ پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

په دغو ۲۵ پروژو کې د پنځو لمریزو شبکو، ترڅنګه لاندې د ۲۸ذخیرو چې لاسي بمبې هم پرې نصب شوې، د ۱۰ مرتفع ذخیرو چې د لمریزې انرژۍ پر سیستم مجهزې وې، د یوې ۷،۹۵۹ متره اوږدې شبکې تمدید او د څلورو ژور څاه ګانو کیندل شامل وو، چې پرې څه باندې ۶۷ میلیونه افغانۍ لګښت شوي او ۸٤۰۰ کورنیو ته به د څښاک پاکې اوبه برابروي.



# په بغلان ولایت کې څه باندې د ۱،۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د کرنیزو ځمکو د اوبو لګولو کانال د جوړولو کار بشپړ شو

۱۳۹۸/ چنګاښ / ۳

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱،۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د کرنیزو ځمکو د اوبو لګولو کانال د جوړولو کار د بغلان ولایت د بغلان جدید ولسوالۍ د سرک ۹ کلي د پراختیایي شورا لخوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. دغه کانال ٤٥٠ متره اوږدوالی لري چې د نوموړې پروژې د کار په بهیر کې فني او غیر فني کارګروته ۱۲۸۲ کاري ورځې رامنځته شوې وې. د یادونې وړ ده چې له یاد کانال به ١٥٥ کورنۍ ګټه اخلي او څه باندې ۸۰۰ جریبه ځمکه به خړوبوي.



# تکمیل کار چهار پروژه‌ی آبرسانی و حفظ‌الصحه به ارزش ۵.۵ میلیون افغانی در غور

۵ سرطان ۱۳۹۸

کار ساخت چهار پروژه‌ی آبرسانی و حفظ‌الصحه به ارزش ۵.۵ میلیون افغانی از سوی برنامه ملی آبرسانی وزارت احیا و انکشاف دهات در روستاهای شابیدک سفلا، چپری سفلا، جنگلک، اسپی بز، دورنیه‌نی، پالیزک، دهن قطس، نوآباد، دره قاضی، کندیوال، شاجوی و غارک مربوط لسوالی‌های فیروزکوه، تولک و دولینه‌ی ولایت غور تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

این پروژه‌ها شامل اعمار ساختمان محافظت چشمه، اعمار دو ساختمان فشارشکن، سه باب ذخیره آهن کانکریت به حجم مجموعی ۵۰ متر مکعب، کندن کاری و پرکاری مسیر پیپ‌ها، نصب میترها و ۱۰۰ عدد شیردهن، حفاری ۹ حلقه چاه آب مجهز با نصب پمپ دستی و اعمار ۱۰ باب مبرز در مکاتب تسریعی می‌باشد.

با تطبیق این پروژه‌ها دانش آموزان مکاتب تسریعی و ٤۹۰ خانواده به آب آشامیدنی صحی و خدمات حفظ الصحه دسترسی پیدا کرده اند.



# جریان کار ساخت یک کانال آب زراعتی به ارزش ۱.۷ میلیون افغانی در بغلان

٤ سرطان ۱۳۹۸

کار ساخت یک کانال آب زراعتی به ارزش ۱.۷ میلیون افغانی از سوی برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در ولسوالی بغلان جدید ولایت بغلان جریان دارد.

این کانال آبیاری ٤۰۰ متر طول داشته و در جریان کار اعمار آن ۱۱۲۰ روز کاری برای کارگران فنی و غیر فنی فراهم شده است.

گفتنی است که پس از تکمیل کار کانال متذکره ۲۵۰ جریب زمین زراعتی تحت پوشش آبیاری قرار گرفته و ۱٤۱ خانواده از مزایای آن مستفید خواهند شد.



# په لغمان کې د څه باندې ۳ سوه زره افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د دوو څاګانو د کیندلو چارې پیل شوې

٤/٤/۱۳۹۸

د کلیود بیا رغونې او پراختیا وزارت، د ولسي تړون ملي روګرام له لوري د لغمان ولایت مرکز اړوند شمتې پیر بابا دڅښاک د پاکو اوبو د دوه حلقو څاګانو د کیندلو چارې پیل شوې. په نوموړو څاګانو څه باندې درې سوه زره افغانۍ لګښت کېږي، چې چارې به یې په درو میاشتو کې بشپړې شي او سلګونو کسانو ته به د څښاک پاکې اوبه برابرې کړي.



# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر د کنړ سیند دواړو غاړو ته د استنادي دیوال د جوړولو چارې د څه باندې یو میلیارد افغانیو په ارزښت پیل کړې

۱۳۹۸/ چنګاښ/ ٤

دزېربناء برخه کې د ولسمشر سلاکار ښاغلي څرګند، د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي لخوا نن په کنړ کې د کنړ سیند د استنادي دیوالونو جوړولو پروژې چارې رسماً پیل کړې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي وویل:»دا استنادي دیوال ٤٠

کیلومتره اوږدوالي لري، چې څه باندې یو میلیارد افغانۍ پرې لګښت کېږي او ۳٦۰۰ هکتاره ځمکه ، چې ۲۷ میلیارده افغانۍ ارزښت لري او د سیند اوبو شاړه کړې بیرته به په کرنیزه ځمکه بدله شي.»

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر وویل، ددې پروژې په کاري بهیر کې به ۸۵ زره کاري ورځې رامنځته شي، چې د سیمې ٦۰ زره خلک به ترې ګټه واخلي او چارې به یې په دوو کالونو کې بشپړې شي.

د یادونې وړ ده، چې ددې ٤۰ کیلومتره استنادي دیوال سږ کال ۲۰ کیلومتره جوړېږي، چې پاتې برخه به یې په راتلونکي کال کې جوړه شي.









# په لغمان کې د دوو میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱۰۹ متره کانال درغوني چارې رواني دي

٤/٤/۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې اوپراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د لغمان ولایت د مرکزا ړوند د چهاردهي قلعه صلاح په سیمه کې ۱۰۹ متره کانال د رغوني چارې رواني دې، نوموړې کانال چې ۷۰ سلنه درغوني چارې بشپړې شوې، دوه میلیونه افغانۍ لګښت چې لس سلنه ونډه په کې د سیمې د اوسیدونکو ده.



# په پکیتا کې د ٤۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۹ پرمختیایي پروژو چارې پیل شوې

۱۳۹۸/چنګاښ/٥

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د ٤۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۹ پرمختیایي پروژو چارې د پکیتا ولایت د احمد اباد په ولسوالۍ کې پیل شوې.

یادې پروژې په روان کال کې د کرنیزو ځمکو د اوبو کولو، اوبو رسولو او ترانسپورټ په برخه کې پلي کېږي، چې د خلګو ګڼې ستونزې به ورسره حل شي.



# د ننگرهار ولایت په دوربابا ولسوالۍ کې د ۱۹۰ کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې

۰۵ چنگاښ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پرمختیا وزارت، په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو ملي پروگرام له لوري د ننگرهار ولایت د دوربابا ولسوالۍ په «ډاکتر کفتان» کلي کې د څښلو د اوبو یوه لمریزه شبکه د خه باندې ۲،۵ میلیونه افغانیو په لگښت جوړه شوه، چې په کاري بهیر کې به یې ۱۳۷۳ کاري ورځې د سیمې خلکو ته رامنځته شوې وې او ۱۹۰ کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې کړي.

د یادې پروژې په چارو کې د یوې ژورې څاه کیندل، د ۲۰ مکعب متر په حجم د ذخیرې جوړول، د ۳۷۳، ۱متره په اوږدوالي سره د پایپونو د شبکې غځول او د سولرونو، یو واټرپمپ او ۱۳نل بندانونو نصبول شامل وو.



# په هلمند کې د ولسي تړون ملي پروگرام له لوري د ٤٧٩ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۱۹ پروژو چارې روانې دي

۱۳۹۸ / چنگاښ/ ۲

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي د یک شنبې په ورځ د هلمند والي تورن جنرال محمد یاسین سره په لیدنه کې د یاد ولایت د خلکو ستونزې واورېدې.

د لیدنې په پیل کې د هلمند والي د کلیو بیارغونې او پراختیا له وزیر سره د یاد ولایت د خلکو ستونزې او غوښتنې شریکې کړې، چې د ولسي تړون ملي پروگرام نورو ولسوالیو ته غځول، سرحدي سیمو کې د برېښنا رسونې او د کلیوالي لارو جوړول غوښتنې یې تر نورې مهمې یادې کړې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي وویل، د هلمند په مرکز، نادعلي او ناوه ولسوالۍ کې د ولسي تړون ملي پروگرام له لوري د ٤٧٩ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۱۹ پروژو چارې روانې دي او کلیوالي سیمو ته د برېښنا رسونې د پروژې له لوري د هلمند د گرمسیر په ولسوالۍ کې ٢٤٧٧٩ کورنیو ته برېښنا برابرېږي، چې د سروې چارو له خلاصیدو وروسته به د لمریزې برېښنا د کڅوړو د وېش لړۍ پیل شي.